## سریزه

۲۰۱۱ کال د افغانستان د خلکو لپاره یو مهم او په ورته وخت کې له پيښنو ډك کال وو. وروستۍ دولس میاشتې، له کومه وخته چې ایشیافوندیشن د افغانستان د خلکو وروستۍ سروې تر سره کړه، له انکشافاتو ډکې میاشتې وې چې افغان ځواکونو ته د امنیتي مسئولیت د لیږد د بهیر لومړۍ مرحله په هغه کې شامل ده. په داسې وخت کې چې نړیواله ټولنه او د افغانستان خلك د هیواد په تیره لسیزه باندې فکر او تأمل کوي، د افغانستان د خلکو له خوا بیان شوي نظرونه اوس له هر بل وخت څخه زیات اهم ګڼل کیږي.

په دې شرایطو کې ایشیافونډېشن د افغانستان د خلکو د نظریاتو اوومه ملي سروې، چې په افغانستان کې تر ټولو پراخه او هراړخیزه نظرپوښتنه ده، تر سره کړه. په دې موخه ایشیافونډېشن د ۲۰۱۱ کال په جولای میاشت کې له کابو ۶۵۰۰ بالغو افغانانو سره د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې مخامخ مرکې ترسره کړې.

دا سروې د تیرو کلونو په شان د هیواد د عمومي وضعیت او استقامت په اړه معلومات ورکوي. نوموړې سروې له یوې خوا په یوې ځانګړې زماني کې د افغانستان د خلکو نظریات څرګندوي او له بلې خوا د یوې څه ناڅه اوږدې مودې په ترڅ کې د عامو خلکو په نظرونو کې د بدلون د سنجولو یوه وسیله ده. د دغې سروې موخه د حکومتوالي او پراختیا د اړوندو مسایلو په هکله د یو زیات شمیر افغانانو د مستقیمو نظریاتو راټولول دي تر څو د دولت پالیسي جوړوونکي او پریکړه کوونکي چارواکي، نړیواله ټولنه او د افغانستان خلك ورڅخه په خپلو پریکړو او پالیسي جوړولو کې د اطلاعاتو د یوې کره او اعتبار لرونکې سرچینې په توګه ګټه پورته کړي.

په ۲۰۱۱ کال کې د اقتصادي، سیاسي او امنیتي ستونزو سره سره چې خلك په هیواد کې ورسره لاس او ګریوان وو، بیا هم کابو نیمایي ځواب ورکوونکو د خوشبیني په څرګندولو سره وویل چې د هغو په آند هیواد په سم لوري روان دی. دغه سروې څرګندوي چې افغانان سږ کال د تیرو کلونو په پرتله د خپل هیواد اقتصادي وضعیت مثبت ارزوي، سره له دې چې د کار د زمینې نشتوالی اوس هم د هیواد د یوې سترې ستونزې په توګه پر خپل ځای پاتې ده. همدارنګه زیات شمیر ځواب ورکوونکي د ښځو لپاره د انډولیزو فرصتونو پلویان دي. برسیره پر دې، د ۲۰۱۱ کال سروې تعلیم او تحصیل او روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي او د دولتي ادارو د رول او دندو باندې د خلکو د پوهیدو د کچې د لوړیدو تر ټولو لوړ رقم ثبت کړ. په داسې حال کې چې د هیواد په ملي اردو او ملي پولیسو باندې د خلکو باور زیات شوی ده، په ورته وخت کې په حکومتوالۍ کې د ونډې نه اخیستلو په برخه کې د خلکو په انګیرنه کې زیاتوالی – په تیره بیا د ښځو په برخه کې –په ټولو کچو کې د اداري فساد د لمنې د پراخیدو او په هیواد کې د امنیتي ستونزو د زیاتوالي ښکارندوینه کوي.

د افغانستان د خلکو د ۲۰۱۱ کال سروې په آسیا کې د ایشیافونډېشن د پرله پسې تجربوی سروې ګانو تر ټولو وروستنۍ سروې ده. ایشیافونډېشن د خلکو د اندیښنو او اړتیاوو په ګوته کولو، د وګړنیز ملاتړ او د پراختیایي چارو د پرمختګ په سنجولو او د پالیسیو او پراختیایي پروګرامونو د طرح کولو لپاره د معلوماتو د برابرولو په موخه د سروې ګانو په ترسره کولو کې ښه شهرت لري.

له بله پلوه دغه سروې د افغانانو د تحقیقي وړتیا د لوړولو په برخه کې د ایشیافونډېشن د پانګونې ښکارندویه ده. دغه سروې زمونږ د افغانستان د دفتر له خوا د افغان ټولنیز– اقتصادي او عامه نظریاتو د مرکز (ACSOR) او د افغانستان د احصایې د مرکزي ادارې په ګډون د یو شمیر افغاني سازمانونو په مرسته تر سره شوې ده.

افغانستان د بیارغونې، د پراختیایي چارو ګړندیتوب او سوکاله راتلونکې ته د رسیدو لپاره هڅې کوي. هیله من یو چې د دغې سروې موندنې –چې د افغان وګړو موخې، تمې، حقایق او اندیښنې بیانوي –د هیواد د روانو حالاتو یو روښانه انځور وړاندې کړي او د هیواد د سوکالۍ لپاره د افغانستان د دولت او نړیوالې ټولنې په هڅو کې ګټورې واقع شي.

دیوید د. آرنولد
د ایشیافونډېشن لوی رئیس
اکتوبر ۲۰۱۱